مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۴۲** (از ۲۳ الی ۳۰ عقرب ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### سيمه‌ييزه ډيپلوماسي او د سولې پروسې د بيا پيلېدو امکان

- پاکستان د سولې پروسې بيا پيلول غواړي! ........ ۴
- د سولې پروسې د بيا پيل لپاره د پاکستان د لېوالتيا عوامل ........ ۴
- سيمه‌ييزه ډيپلوماسي ........ ۵
- د سولې پروسې د بيا پيلېدو احتمال ........ ٦

### طالبان افغان و روابط با فدراسیون روسیه

- روابط افغان-روس در زمان حکومت طالبان ........ ۸
- بعد از سقوط طالبان ........ ۱۰
- تماس‌های طالبان و روسیه در سال‌های اخیر ........ ۱۰
- نگرانی گسترش ناامنی‌ها به آسیای میانه ........ ۱۱

## مقدمه

تېره اوونۍ‌د پاکستان د پوځ وياند وويل، چې له کابله د محرمو معلوماتو د افشا کېدو له امله، د سولې خبرې په ټپه ودرېدې. دا محرم معلومات، د طالبانو د پخواني مشر ملا محمد عمر د مړينې قضيه وه، چې په رښتيا هم د دغې خبرې له افشا کېدو وروسته، دا پروسه په ټپه ودرېده. خو د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د روغې جوړې د خبرو اترو له تم کېدو او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړيکو له خرابېدو وروسته، اوس يو ځل بيا په دې تړاو سيمه‌ييزه ډيپلوماسي فعاله شوې او د دغې تم شوې پروسې د بيا پيل هلې ځلې کېږي.

په تېرو څو اوونيو کې د افغانستان او پاکستان لپاره د ملګرو ملتونو، امريکا او چين ځانګړو استازو کابل او اسلام‌آباد ته سفرونه درلودل او د افغانستان د سولې پروسې په اړه نظرونه تبادله شول. ترڅنګ يې امريکا ته د پاکستاني چارواکو په وروستيو سفرونو کې هم د افغانستان د سولې قضيه د سفرونو په اجنډاوو کې شامله وه. دا چې سيمه‌ييزه ډيپلوماسي به د سولې د بهير پر بيا پيلېدو کې څومره رول ولري او د دې پروسې د بيا پيل څومره شونتيا شته ده؟ د دې اوونۍ په تحليل کې پرې شننه کوو.

د تحليل په دويمه برخه کې د روسيې او طالبانو د اړيکو په اړه لولئ. تېره اوونۍ داسې خبرونه خپاره شول، چې افغان طالبانو په تاجيکستان کې له روسي چارواکو سره کتلي دي. له تېرو څو مياشتو راهيسې په افغانستان کې د داعش ډلې د زياتېدونکي حضور او مشخصاً له تېرې مياشتې راهيسې، کله چې کندز ولايت د څو ورځو لپاره د طالبانو لاس ته ورغی او د افغانستان په شمال کې ناامنيو زور واخېست، د افغانستان په تړاو د روسيې انديښنې زياتې شوې. له همدې کبله ويل کېږي، چې روسيه له طالبانو سره د اړيکو له لارې، منځنۍ اسيا ته د ناامنيو، له نه پراخېدو څخه د ډاډ ترلاسه کولو هڅې کوي. پوښتنه دا ده، چې له روسيې سره د طالبانو د اړيکو مخينې ته په کتو سره، له دغې ډلې سره د روسيې د پوځي مرستو څومره شونتيا شته ده؟

د اوونۍ تحليل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز، د څېړنيزې ځانګې شننې او څېړنې لولئ.

# سیمه‌ییزه ډیپلوماسي او د سولې پروسې د بیا پیلېدو امکان



له تېرې یوې میاشتې راهیسې سیمه‌ییزه او نړیواله ډیپلوماسي د افغانستان د تم شوې سولې پروسې په اړه بیا متحرکه شوې ده. په دې اړه د چین د ولسمشر مرستیال افغانستان ته سفر وکړ او همدا راز د افغانستان او پاکستان لپاره د چین ځانګړي استازي هم افغانستان او پاکستان ته سفرونه درلودل. د دې ترڅنګ په تېرو دوو اوونیو کې د امریکا د متحده ایالاتو او ملګرو ملتونو ځانګړو استازو هم پاکستان ته سفرونه کړي دي.

د پاکستان جګپوړو چارواکو هم د ملا محمد عمر د مړینې له اعلان وروسته، چې د افغانستان او پاکستان اړیکې له افغان حکومت سره تر بل هر وخت زیاتې خرابې شوې، څو ځله داسې څرګندونې وکړې، چې د سولې پروسې د بیا پیلولو هیلې پکې روښانه وې. په بل اړخ کې افغان لوری هم، د سولې پروسې بیا پیلېدو ته هیله‌من دی.

دا چې په دې وروستیو کې د سولې پروسې په اړه سیمه‌ییزه ډیپلوماسي څه ډول وه؟ افغان لوری به خپل دریځ نرم کړي که نه؟ او په راتلونکي کې به د سولې پروسې د بیا پیلولو احتمال څومره وي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته پرې شننه شوې ده.

## پاکستان د سولې پروسې بیا پیلول غواړي!

د افغانستان-پاکستان ترمنځ د اړیکو له خرابېدو وروسته، ډېری جگپوړو پاکستاني چارواکو -له سیاسي مشرانو نیولې تر پوځي مشرانو- ټولو څو ځله د سولې پروسې د بیا پیلولو په اړه څرگندونې وکړې. د پاکستان لومړی وزیر نوازشریف تېره میاشت د امریکا په سفر ولاړ، هلته یې د امریکا په یوه تحقیقاتي مرکز کې د وینا پر مهال وویل: «افغان ولسمشر ته مې ویلي چې اسلام‌آباد د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د سولې خبرو پیلولو ته چمتو دی؛ خو دوی نه شي کولای چې هم طالبان ووژني او هم یې د خبرو اترو مېز ته حاضر کړي[1].»

د امریکا له ولسمشر بارک اوباما سره د پاکستان د لومړي وزیر د خبرو اترو د اجندا له مهمو ټکو څخه یو هم د افغانستان امنیت او د سولې پروسه وه. د امریکا او پاکستان په گډه اعلامیه کې هم د افغانستان د سولې پروسې ته ځای ورکړل شوی و؛ په دغه اعلامیه کې راغلي وو: «دواړو مشرانو د افغانانو په مشرۍ، د افغان طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې د خبرو اترو پرمختگ ته ژمنتیا څرگنده کړه او ترڅنگ یې پر طالبانو غږ وکړ، چې له افغان حکومت سره خبرو اترو ته کېني او د دایمي سولې لپاره خبرې وکړي[2].»

د پاکستان لوی درستیز جنرال راحېل شریف هم تېره اوونۍ امریکا ته په یوه پنځه‌ورځني سفر ولاړ، د ده د سفر د اجندا یوه مهمه برخه هم د افغانستان په تړاو وه. که څه هم د افغانستان په اړه د ده د سفر جزئیات لاهم نه دي روښانه شوي؛ خو د پاکستان د پوځ ویاند جنرال عاصم باجوه په خپله ټویټرپاڼه کې په دې اړه یو څه توضیحات ورکړل او ویې لیکل، چې په دې سفر کې د افغانانو په مشرۍ د سولې پروسې د ننگونو او حل‌لارو په اړه خبرې اترې وشوې.

## د سولې پروسې د بیا پیل لپاره د پاکستان د لېوالتیا عوامل

د پاکستان په منځگړیتوب د افغان سولې بهیر له ټم کېدو وروسته، جگپوړو پاکستاني چارواکو، په تېره بیا د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر، لومړي وزیر او لوی درستیز د سولې پروسې د بیا پیلولو په اړه په تکرارسره بیانونه ورکړل. خو پوښتنه دا ده، چې پاکستان ولې د سولې پروسې بیا پیلولو ته دومره لېوالتیا لري؟ دا پوښتنه په لاندې دوو نکتو کې ځوابېدای شي:

---

[1] See online: http://www.usip.org/publications/2015/10/23/pakistan-s-sharif-urges-renewed-peace-talks-in-afghanistan
[2] See online: https://www.whitehouse.gov/the-press-office/2015/10/22/2015-joint-statement-president-barack-obama-and-prime-minister-nawaz

**لومړی:** پاکستان ته د افغان حکومت له خوا له ډېرو امتیازاتو ورکولو سره سره، پاکستاني لوري د سولې د پروسې په اړه کوم د پام وړ گام پورته نه کړ او یوازې یې په اسلام‌آباد کې له یو شمېر طالب مشرانو سره د یوې ناستې زمینه برابره کړه، چې کومه څرگنده پایله یې نه درلوده. په دې توگه پاکستان د دریو لاملونو له کبله د نړیوالو تر فشارونو لاندې راغی. لومړی دا چې د سولې پروسې په اړه یې څه چې له وسه پوره وه، ونه کړل. دویم دا چې په اسلام‌آباد کې د مري ناستې او په پاکستان کې د طالبانو د نوي مشر په توگه د ملا اختر محمد منصور اعلانېدل، په نړیواله کچه دغه فکر نور هم پیاوړی کړ، چې که پاکستان وغواړي نو طالبان له افغان حکومت سره د سولې او روغې جوړې خبرو ته چمتو کولی شي. درېیم لامل دا و، چې د ملا محمد عمر د مړینې له اعلانېدو سره سم، پاکستان په ډیپلوماتیک ډگر کې په نړیواله کچه ځان یوازې احساس کړ؛ له همدې کبله یې په مسلسله توگه د سولې پروسې د بیا پیلولو په اړه ټینگار وکړ.

**دویم:** پاکستان ته په وروستیو ۱۴ کلونو کې د لومړي ځل لپاره دا موقع په لاس ورغلې وه، چې له افغان حکومت سره خپلې اړیکې ښې کړي، هغه هم په افغانستان کې د هند د نفوذ د کمولو په بیه! د امریکا د کانگرس په نوي راپور کې هم همدې خبرې ته اشاره شوې، چې پاکستان، د کابل او ډهلي له نږدې اړیکو څخه ژوره اندېښنه لري. خو اوس پاکستان وېره لري، چې دا موقع یې له لاسه وتونکې ده.

## سیمه‌ییزه ډیپلوماسي

په تېرو دوو اوونیو کې د چین، امریکا او ملگرو ملتونو ځانگړو استازو پاکستان ته سفرونه وکړل او ټولو د افغان سولې پروسې پر بیا پیلولو ټینگار وکړ. خو له دغو سفرونو وړاندې د چین د ولسمشر مرستیال، کابل ته سفر وکړ او د نوموړي د سفر پرمهال افغان ولسمشر د سولې د پروسې په اړه وویل: «موږ چین او خپلو نورو ستراتیژیکو همکارانو ته په یوه سترگه گورو، ترڅو ټول له یو بل سره په گډه د تلپاتې سولې لپاره لومړی د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دوو خپلواکو هېوادونو د مساواتو له مخې او بیا د سیمې د سولې لپاره مشترک او دوامدار اقدامات وکړو»[3]. همدا راز د چین د ولسمشر مرستیال "لي یوان چاو" هم په خپلو خبرو کې د افغانانو په مشرۍ د سولې له پروسې او له گاونډیانو سره د اړیکو په ښه کولو کې له افغانستانه د خپل هېواد ملاتړ اعلان کړ.

[3] See online: http://pa.azadiradio.org/content/article/27342782.html

له دغه سفر وروسته، د نوامبر په شپږمه د افغانستان او پاکستان لپاره د چین ځانګړي استازي، ډینګ شیون، اسلام‌آباد ته سفر وکړ. دغه چینایي چارواکی له دې وړاندې په افغانستان کې د چین سفیر و. پاکستان ته د نوموړي سفر، افغانستان ته د چین د مرستیال ولسمشر له سفر څخه وروسته ترسره شو. د چین ځانګړي استازي د اسلام‌آباد له سفر وروسته کابل ته هم سفر وکړ او دلته یې د ملي وحدت حکومت له مشرانو سره ولیدل. ده وویل، چین چمتو دی، د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د خبرو اترو لپاره اسانتیاوې برابرې کړي؛ ځکه د افغانستان سوله د چین په ګټه هم ده. هغه د خپل دغه سفر موخه د افغانستان او پاکستان د نظرونو معلومول وګڼل او زیاته یې کړه، چې یوه میاشت وروسته به افغانستان او پاکستان ته په همدې موخه بیا سفرونه ولري.

د نوامبر په ۱۱مه د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړې استازې، لوریل میلر هم اسلام‌آباد ته سفر درلود او هلته یې په بهرنیو چارو وزارت کې له طارق فاطمي سره، چې په بهرنیو چارو کې د پاکستان د لومړي وزیر ځانګړی مرستیال دی، وکتل. همدا راز افغانستان ته د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي نیکولاس هیشم هم اسلام‌آباد ته سفر وکړ او په بهرنیو چارو کې د پاکستان د لومړي وزیر له سلاکار سرتاج عزیز سره یې ولیدل.

په دغو ټولو ناستو او ملاقاتونو کې د سولې پروسې پر بیا پیلېدو ټینګار وشو، همدا راز د سولې په پروسه کې د پاکستان له رول څخه ملاتړ وشو او د خبرو اترو مېز ته د طالبانو د کېنولو په اړه یې پر پاکستان بیا زور واچاوه؛ خو دا چې د سولې پروسه به بیا پیل شي که نه؟ په لاندې برخه کې یې احتمال څېړل شوی دی.

## د سولې پروسې د بیا پیلېدو احتمال

د افغان سولې د بهیر په اړه د سیمه‌ییزې او نړیوالې ډیپلوماسۍ له فعالېدو سره سم، درې نور لاملونه هم کولای شي، چې د سولې پروسې د بیا پیلېدو احتمال زیات کړي:

**لومړی:** د ژمي د موسم له رارسېدو سره، د اټکل او تجربې له مخې داسې انګېرل کېږي، چې په راتلونکي ژمي کې به د طالبانو عملیات کم شي او په دې توګه به د سولې پروسې د بیا پیلولو لپاره لاره هواره کړي.

**دویم:** که دا ځل د سولې عالي شورا مشر یو نسبتاً درېیمګړی کس وټاکل شي او ترڅنګ یې له طالبانو سره په جګړه کې هم سابقه ونه لري، نو دا به طالبانو ته د حکومت له خوا شین څراغ ورکړي، چې دا ځل افغان حکومت له طالبانو سره په ریښتینې توګه د سولې خبرو اترو ته ژمن دی.

**درېیم:** داسې ګنګوسې دي، چې د ولسمشر سلاکار وزیر عمر زاخیلوال به په راروانو وختونو کې په پاکستان کې د افغانستان سفیر او پاکستان ته د ولسمشر ځانګړی استازی وټاکل شي. دغه اوازې خپله عمر زاخیلوال هم په خپله فیسبوک‌پاڼه او ټویټرپاڼه کې تایید کړې دي، چې له ولسمشر سره یې په دې اړه خبرې شوې او دواړه پرې توافق ته رسیدلي؛ خو دغه پریکړه لا نهایي شوې نه ده. که چیرې عمر زاخیلوال په ریښتیا هم په پاکستان کې د افغانستان سفیر وټاکل شي، نو دا به پاکستانیانو ته په داسې حال کې چې د کابل-اسلام‌آباد اړیکې سړې او له بې‌باورۍ سره مخ دي، یوه مثبته ډیپلوماتیکه اشاره ورکړي او په اوسني وخت کې به د باورجوړونې لپاره یوه نوې فضا رامنځته کړي. ځکه د پاکستان په منځګړیتوب د سولې پروسې د بیا پیلیدو احتمال بیا هم تر ډېره پر باورجوړونې متکي دی. اوسمهال درې واړه لوري افغان حکومت، پاکستان او طالبان د بل هر وخت په پرتله پر یو بل ډېر بدګمانه دي او دغه بدګمانۍ تر ډېره په عملي کړنو ختمېدای شي.

# طالبان افغان و روابط با فدراسیون روسیه




بعد از دست به دست شدن کندز به دست طالبان و حکومت افغانستان، شایعاتی در مورد تماس میان طالبان و مقامات روسی به گوش می‌رسد. گفته شده که این مذاکرات در سرحد افغانستان و تاجیکستان صورت گرفته است. مقامات افغان از این جریان ابراز نگرانی نموده و بعضی از اعضای پارلمان آنرا مداخله در امور افغانستان دانسته اند.

این خبر در رسانه‌های غربی انعکاس یافته، اما نه مقامات رسمی در روسیه و نه هم در تاجیکستان در مورد، تاکنون عکس‌العملی نشان داده و طالبان نیز در تائید و یا تکذیب این خبر چیزی نگفته اند، اما اگر چنین مذاکراتی واقعا صورت گرفته باشد، به هیچ صورت تازه‌گی ندارد، زیرا از چند سال گذشته و به خصوص بعد از رفتن دفتر سیاسی طالبان به قطر، تماس‌هایی میان طالبان و روس‌ها وجود داشته است.

## روابط افغان-روس در زمان حکومت طالبان

آغاز فعالیت‌های طالبان در سال 1995 در افغانستان، نگرانی روسیه را برانگیخت. روس‌ها این حرکت را دسیسه‌ای به منظور بی‌ثبات ساختن آسیای میانه از جانب کشورهای غربی تلقی نمودند و با حکومت استاد ربانی در کابل، در تماس گردیدند.

حکومت مجاهدین به رهبری استاد ربانی نیز که خود را در برابر طالبان به شدت آسیب‌پذیر می‌یافت، دست دوستی به جانب روس‌ها دراز کرد و در یک قدم مهم، میزبان مذاکرات میان حکومت تحت رهبری مسکو به رهبری امام علی رحمان و مخالفینش در تاجیکستان گردید و سازشنامهٔ صلح تاجیکان میان سیدعبدالله نوری و امام علی رحمان به امضا رسید.

اکبر توره‌جان‌زاده یکی از رهبران سابق مخالفین حکومت تاجیکستان در 14 می 2013 در برنامهٔ (به عبارت دیگر) تلویزیون فارسی بی بی سی در این مورد چنین گفت: «...در ابتدا استاد ربانی و احمدشاه مسعود با ما کمک کردند، اما زمانیکه فشار طالبان بر آنان بیشتر شد، آن‌ها به صورت روزافزون به مسکو وابسته شدند و به همین دلیل بر ما فشار وارد آوردند تا با (رحمان) کنار بیاییم. ما فدای جنگ حکومت استاد ربانی با طالبان شدیم».

در آن زمان فدراسیون روسیه، علی الرغم مشکلات اقتصادی که داشت، با حکومت استاد ربانی کمک نمود. بعد از تصرف کابل توسط طالبان که حکومت استاد ربانی به شمال کشور نقل مکان نمود، این کمک‌ها از طریق تاجیکستان ادامه یافت.

طالبان بعد از رسیدن به قدرت، به مخالفین مسلح رژیم‌های آسیای میانه در افغانستان پناه دادند، اما به آن‌ها اجازهٔ عبور از سرحد و جنگ در داخل این جمهوری‌ها را ندادند. در آن زمان که طالبان برای نخستین بار وارد کندز و سپس مزارشریف شدند، با اعلامیهٔ آشتی‌جویانه به کشورهای آسیای میانه اطمینان دادند که از خاک افغانستان هیچ خطری متوجه آنان نخواهد بود و طالبان آرزو دارند که سرحدات شان با همه کشورهای همسایه، برای همیشه سرحدات صلح و دوستی باشد.

اما در برابر فدارسیون روسیه که با نیروهای مخالف طالبان کمک می‌کرد، طالبان نیز بی‌کار ننشستند. تماس‌ها با حکومت اصلان مسخدوف در چچنیا که علیه فدارسیون روسیه درگیر جنگ بود ادامه داشت و سرانجام طالبان به عنوان اولین و آخرین کشور، دولت چچنیا را به رسمیت شناختند.

فدارسیون روسیه از طریق سفارت طالبان در امارات متحدهٔ عربی به حکومت طالبان رسما اطلاع داد که روسیه از سال 1979 به بعد یازده ملیارد دالر از افغانستان طلبکار است. (این یازده ملیارد دالر مصارف جنگ روسیه در افغانستان بود) ملامحمد حسن آخند وزیر خارجهٔ طالبان در جواب نوشت که افغانستان نه تنها به روسیه بدهکار نیست بلکه حق گرفتن تاوان جنگ از فدراسیون روسیه را برای خود محفوظ می‌داند. فدارسیون روسیه از یک طرف مدعی است که مسولیت جنگ افغانستان و تباهی در این کشور به دوش اتحاد شوروی سابق است، اما از جانب دیگر وقتی پای منافع مادی در میان باشد، خود را وارث اتحاد شوری می‌داند.

## بعد از سقوط طالبان

حملهٔ امریکا به افغانستان و سقوط حکومت طالبان، برای فدراسیون روسیه فرصت آن را فراهم آورد تا نفسی به راحت بکشد، اما هنوز هم از حضور جنگجویان آسیای میانه و قفقاز در صف طالبان، نگران بود. هرچند این نگرانی به این دلیل کمرنگ‌تر شده بود که اکنون این عناصر در مناطقی دور از شمال افغانستان وسرحدات آسیای میانه، در مناطق قبایلی وزیرستان پناه گرفته بودند.

از نظر روسیه دوام جنگ در افغانستان دیگر به ضرر این کشور تلقی نمی‌شد، زیرا تا زمانیکه این جنگ ادامه می‌یافت، فرصت دست‌درازی به آسیای میانه را از کشورهای غربی می‌گرفت. ناامنی‌های افغانستان موجب می‌شد تا کشور چین نیز از سرمایه‌گذاری در شکارگاه اختصاصی روسیه یعنی آسیای میانه، باز ماند.

نگرانی بزرگ روسیه از افزایش روزافزون کشت و تولید مواد مخدر در افغانستان تحت تسلط نیروهای خارجی بود که روس‌ها آنرا جنگ تریاک علیه خود شان تلقی می‌کردند. امریکایی‌ها برای دادن اطمینان به روس‌ها، چند سال قبل به نیروهای روسی هم اجازه دادند تا در چندین عملیات ضد مواد مخدر در افغانستان، با نیروهای امریکایی و انگلیسی یکجا سهم بگیرند.

## تماس‌های طالبان و روسیه در سال‌های اخیر

نخستین تماس‌ها میان روس‌ها و طالبان در سال‌های 2006 و 2007 در رابطه به جلوگیری از ترافیک مواد مخدر به کشورهای آسیای میانه بود که سرانجام سر از روسیه در می‌آورد و روس‌ها از طالبان تقاضا داشتند تا جلو این کار را بگیرند. این تماس‌ها را می‌توان تماس‌های امتحانی برای درک میزان توانایی طالبان در مبارزه علیه مواد مخدر دانست که طالبان در این امتحان توفیقی نداشتند و تماس‌ها قطع شد.

در سال 2013 طالبان سرنشینان یک هلی‌کوپتر مربوط به یک شرکت خصوصی خارجی را که به دلیل خرابی هوا در ارزهٔ ولایت لوگر نشست اضطراری نموده بود، دستگیر کردند. پیلوت این هلی‌کوپتر بنام (پترینکو) یک اکراینی‌تبار تبعهٔ روسیه بود. آزادی این گروگان فرصت تماس میان طالبان و روس‌ها را در دوبی فراهم آورد و سرانجام پس از ماه‌ها، طالبان این گروگان را آزاد کردند.

بنابراین می‌توان گفت که روس‌ها در مواقع ضرورت و برای رفع مشکلات خود شان به صورت محدود با طالبان رابطه می‌گرفتند و این تماس‌ها به منظور کمک به طالبان و به خصوص کمک نظامی به منظور ایجاد مشکل به نیروهای خارجی در افغانستان نبود. مقامات روسی بارها در مورد خروج زود هنگام نیروهای خارجی از افغانستان، هوشدار داده‌اند.

## نگرانی گسترش ناامنی‌ها به آسیای میانه

در این اواخر گسترش فعالیت‌های طالبان در شمال موجب نگرانی فدارسیون روسیه گردید. این نگرانی بیشتر به این دلیل بود که مقامات نظامی افغانستان مدعی بودند که جنگ کندز را جنگجویان خارجی که بیشتر شامل افراد مسلح از آسیای میانه در صف طالبان اند، رهبری و مدیریت می‌کردند.

هرچند طالبان قبلا اعلام نموده بودند که آنان برنامه‌ای برای جنگ در خارج از افغانستان ندارند، اما سروصدای ظهور گروه "دولت اسلامی" یا داعش و جنگ طالبان با این گروه در شرق افغانستان وضع را تغییر داد. گروه "دولت اسلامی" تمام جهان اسلام را شامل قلمرو خود اعلام نموده و به دست آوردن این مناطق را در اولویت‌های برنامهٔ کاری خود شامل ساخته است.

از جانب دیگر بزرگترین و قدرتمندترین جبههٔ جنگ گروه "دولت اسلامی" در سوریه متشکل از جنگجویان داوطلب از آسیای میانه است که موجب شد تا روسیه برای جلوگیری از نفوذ بیشتر آن‌ها و در نهایت بازگشت شان به آسیای میانه، استراتژی پیشگیرانه را در پیش گیرد و تلاش نماید تا با حضور نظامی، آن‌ها را در میدان جنگ سوریه نابود سازد.

روسیه به خاطر ابهاماتی که در مورد ظهور و گسترش گروه داعش در جهان وجود دارد، نگران است که مبادا این گروه سر از آسیای میانه بیرون کند و در این رابطه نقش افغانستان به عنوان مدخل و منفذ آسیای میانه، مهم است.

از جانب دیگر کنترول بخشی از سرحدات شمال افغانستان با کشورهای آسیای میانه توسط طالبان، به خصوص در بعضی از ولسوالی‌های بدخشان و ولسوالی درقد در تخار، روس‌ها را وادار می‌سازد تا به منظور حصول اطمینان، با طالبان در تماس گردند.

بنابراین شماری از تحلیلگران به این نظر اند که اگر روس‌ها از افغانستان خطری را متوجه کشورهای آسیای میانه ببینند، همانگونه که در سوریه و از فاصله‌های دور مداخله کردند، احتمال دارد در افغانستان نیز به اقدام مشابه دست

بزنند، اما کمک نظامی ماسکو به گروه‌هایی خارج از حکومت افغانستان از جمله طالبان و با این هدف که مانع نزدیک شدن گروه داعش به سرحدات آسیای میانه گردند، در شرایط فعلی بیشتر به افواهات شباهت دارد و عملی شدن آن ممکن به نظر نمی‌رسد.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 747575741 (+93) drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.